دادگاه مردمی برای زنان افغانستان
د افغانستان د ښځو لپاره ولسي محکمه
PEOPLE'S TRIBUNAL FOR WOMEN OF AFGHANISTAN
PERMANENT PEOPLE'S TRIBUNAL

# د افغانو ښځو لپاره د ولسي محکمې اړوند پوښتنې

PPT PERMANENT PEOPLES TRIBUNAL

رواداری RAWADARI
DROPS
HRD HUMAN RIGHTS DEFENDERS PLUS
AHRDO Afghanistan Human Rights and Democracy Organization

# سريزه

د افغانو ښځو او نجونو ناوړه حقوق بشري وضعيت او پر دوی باندې زیاتیدونکومحدودیتونوته په پام سره، د رسمي قضايي پروسو تر څنګ، د افغان ميرمنو د غږ منعکسولو او د طالبانو د مسئول ګرځولو لپاره د يو بشپړ او ولسي ميکانيزم رامنځته کېدو جدي اړتیا  لیدل کېده. د دې اړتیا په پيژندو سره، د ۲۰۲۴ ميلادي کال په ډسمبر کې، د افغانستان د بشر حقونو څلورو بنسټونو، رواداري، د افغانستان د بشر حقونو او دموکراسی موسسه، د څيړنې او پراختيا بنسټ، او د بشر حقونو د مدافعانو (پلس) بنسټ تصميم ونيو چې د ايټاليا په روم ښار کې دايمي ولسي محکمې ته يو غوښتنليک وسپاره. دا غوښتنليک د بين المللي جرمونو، بشريت ضد جرمونو او په افغانستان کې د ښځو او نجونو له حقونو څخه د ښکاره سرغړونو د اورېدو او ورته د رسېدو لپاره، د يوې ولسي محکمې د رامنځته کولو په موخه وړاندې شو.

په افغانستان کې د ښځو او نجونو حقوق بشري وضعيت او پر دوی د تپل شوي سيستماتيک کړاو په نظر کې نيولو سره دايمي ولسي محکمې دا غوښتنه د ۲۰۲۵ کال په فبروري کې تاييد کړه، او هوکړه يې وکړه چې د ۲۰۲۵  په اوړدو کې به د  ښځو او نجونو د بشر حقونو وضعيت د څېړلو په موخه یوه استماعيه غونډه ترسره کړي.

دا مهال ياد بنسټونه د افغانستان دننه او بهر د ښځو او نجونو قربانيانو سره په مشوره، او د بشر حقونو د يو لړ بنسټونو، د مدني ټولنې بنسټونو او يو شمېر حقوقپوهانو او کارپوهانو په مرسته او ملاتړ د دې استماعيه غونډې د جوړېدو لپاره د تياري او پروګرام جوړونې په حال کې دي.

دا سند په کور دننه او بهر کې افغانانو او په ځانګړې توګه ميرمنو او نجونو ته د معلوماتو چمتو کولو لپاره ترتيب شوی دی. د دې سند د ترتيبولو موخه د عامه پوهاوي د کچې لوړول، د افغانستان د خلکو د ملاتړ او ملګرتيا جلبول، او د افغان ښځو او نجونو لخوا د دې پروګرام مالکيت ته زمينه برابرول دي، څو له دې لارې د دې پروګرام د لا ولسي کېدو لپاره فرصت برابر شي، چې دا يوه بيړنۍ او حياتي اړتيا ده.  د دې سند په چمتو کولو کې هڅه شوې چې د دې پروسې لپاره اړين او اړوند معلومات په ساده او روښانه ډول د ټولو لپاره وړاندې شي.

## ۱ - ولسي محکمې څه شی دی؟

ولسي محکمې د مدني ټولنې پر بنسټ خپلواک خوځښتونه دي چې د خلکو د محکمو او د قربانیانو د محکمو په نومونوهم پیژندل کیږي. دا محکمې کولی شي د رسمي بین المللي محکمو لپاره د بدیل په توګه عمل وکړي او له مجازاتو څخه د معافیت مسئله وڅیړي، په ځانګړې توګه په هغو مواردو کې چې رسمي عدالت ته د لاسرسي لپاره قانوني او قضایي تشې موجودې وي. په ځینو مواردو کې، دا محکمې کولی شي د شته رسمي محکمو د زمینې او د شته محکمو د اقدام لپاره د فشار د عامل په توګه یا د ورته رسمي جوړښتونو د رامنځته کېدو د لامل په توګه عمل وکړي. همدا راز، دا محکمې له رسمي محکمو او قضایي سیسټمونو سره په موازي ډول رامنځته کیدی شي، حتی کله چې په دي محکمو کې د قضیو اداره کول روان وي، او دموندنو، شواهدو او پریکړو په وړاندې کولو سره رول لوبوي، چې په کیفي ډول له رسمي اجرااتو څخه توپیر لري.

ولسي محکمې له مجازاتو څخه د معافیت له پدیدې سره د مبارزې، د قربانیانو د غږ په رسمیت پیژندلو او په دي جنایتونو کې د ککړتیا په توګه د ټولو د چوپتیا د پای ته رسولو لپاره رامنځته کیږي. لکه څنګه چې برتراند راسل د راسل محکمې بنسټ ایښودونکي، په ۱۹۶۶ کال کې په ویتنام کې د متحده ایالاتو د جرمونو په اړه ویلي ؤ، د دې محکمې د ترسره کولو موخه دا ده چې «د خاموشۍ د جنایت مخنیوی وشي». په داسې حال کې چې دا ډول محکمې الزامي قضایي واکونه نه لري، خو د ډېرو قربانیانو د کورنیو، د قربانیانو او عیني شاهدانو لپاره یې د داستانونو او کړاوونو بیانولو، د حقایقو افشا کولو، په رسمیت پیژندلو، د حیثیت اعاده کولو او ټولیز التیام او ټکور لپاره د پیاوړو میکانیزمونو په توګه عمل کړی دی. دا محکمې د تاریخي حافظې رامنځته کولو او د عمومي داستانونو بیانولو لپاره یو بستر او چاپیریال چمتو کوي. په ځینو مواردو کې، ولسي محکمې د ترسره شویو جنایتونو د رسمیت پېژندنې او قربانیانو ته د خسارې د جبران لامل ګرځېدلې دي.

## ۲ - د ولسي محکمو او رسمي بین المللي محکمو ترمنځ توپیر په څه کې دی؟

ولسي محکمې د رسمي بین المللي محکمو برعکس، الزامي قضایي واک نه لري او د دوی پریکړې معمولا مشورتي، توصیوي او سمبولیک ماهیت لري. سره له دې، په ډیری مواردو کې، د دې محکمو د واک ساحه د رسمي بین المللي محکمو په پرتله خورا پراخه وي. لکه څنګه چې نړیواله جنایي محکمه په یو شمېر ځانګړو موضوعاتو کې او تر ځانګړو شرایطو لاندې یواځې د حقیقي اشخاصو اړوند قضایي واک لري او د عدالت بین المللي محکمه یواځې د دولتونو تر منځ شخړو سره تړاو لري، خو ولسي محکمې کولای شي چې هم د اشخاصو د فردي مسئولیت اړوند او هم د ډلو او دولتونو د ټولیز مسئولیت په اړه حکم صادر کړي.

د رسمي بین المللي محکمو برعکس چې قانونیت او اعتبار یې د تاسیس شویو اسنادو پر بنسټ وي او خپل مشروعیت د همغو اسنادو په چوکاټ کې ترلاسه کوي، د ولسي محکمو اعتبار او مشروعیت د عامه افکارو له ملاتړ، د قربانیانو له ګډون، شفافیت، خپلواکۍ او د خپلو غړو د تخصص له مخې ترلاسه کیږي.

## ۳ - ولسي دایمي محکمه څه ډول بنسټ دی؟

ولسي دایمي محکمه (Permanent People's Tribunal) یوه بین المللي او خپلواکه اداره ده چې د لیلیو او لیسلي باسو بنسټ په ملاتړ فعالیت کوي. دا محکمه د نړیوالو عامه افکارو پر بنسټ د یو حقوقي جوړښت په

توګه رامنځته شوې، چې د خلکو او اقليتونو اړوند د سختو جنايتونو په اړه د تصميم نيولو واک لري. دايمي ولسي محکمه په ۱۹۷۹ کې د راسل محکمو د ځای ناستي په توګه رامنځته شوه، چې راسل محکمې په ويتنام کې د متحده ايالاتو د جرمونو په اړه د قضاوت لپاره رامنځته شوې وې. د ولسي محکمو په منځ کې، دايمي ولسي محکمه د دې محکمې دايمي والي، د غړو ترکيب او تخصص درلودلو ته په کتو، په بين المللي کچه پېژندل شوې او له ځانګړي او د پام وړ ځای ځايګي څخه برخه منه ده. دې محکمې تر دې دمه په نړيواله کچه د پراخو قانوني او تخصصي مسلو په تړاو لکه جنګي جنايتونو، د بشريت ضد جنايتونو، نسل وژنې، او همدارنګه اقتصادي، د چاپيريال ساتنې او سازمان شويو جرمونو اړوند له ۵۰ څخه ډېرې استماعيه غونډې ترسره کړې دي.

د دې محکمې لخوا د ترسره شويو غونډو څخه، دوه يې د افغانستان پر وړاندې د پخواني شوروي اتحاد د پوځي تيري اړوند او د افغانانو د خپلواکی او ځمکنی بشپړتيا لپاره په ترتيب سره په ۱۹۸۱ او ۱۹۸۲ کلونو کې د سويډن په ستکهلم او د فرانسې په پاريس ښارونو کې ترسره شوې وې.

## ٤ - ولې د يوې ولسي ځانګړې محکمې د رامنځته کېدو د امکان سره سره، د ولسي دايمي محکمې پر وړاندې د يوې استماعيه غونډې تصميم ونيول شو؟

که څه هم په عمل کې دواړه انتخابونه  کې ولسي ماهيت لري او خپل مشروعيت او اعتبار د عامه افکارو له ملاتړ او د غړو له تخصصي واک څخه ترلاسه کوي، خو بين المللي ولسي محکمه يو بين المللي دايمي معتبر بنسټ دی، چې خپل ځانګړی ځای لري.  دا محکمه په ۱۹۷۶ کې په الجزاير کې د خلکو د حقونو د نړيوالې اعلاميې پر بنسټ رامنځته شوې او د پياوړو بين المللي متخصصينو په لرلو چې مسلکي او اغېزناکه مخينه يې درلوده، د خلکو حقونو او د قربانيانو ملاتړ ته د پام اړولو په برخه کې د مهمې او معتبرې مرجع په توګه په نړيواله کچه پېژندل کيږي. دې مواردو ته په پام سره، د دې محکمې لخوا صادرې شوې پريکړې کولی شي په افغانستان کې د ښځو او نجونو د حقونو ښکاره او پراخ نقض ته د نړيوالو عمومي افکارو د پام اړولو په برخه کې مهم رول ولوبوي.

## ٥ - د ولسي دايمي محکمې پر وړاندې د دې محکمې موضوع او د انتخاب دليل يې څه دی؟

د دې محکمې موضوع د جنسيت پربنسټ د ځورونې بين المللي جنايت ته رسېدل دي، دا د بشريت ضد د جنايت مصداق دی چې د طالبانو له خوا د افغانو د ښځو او نجونو پر وړاندې ترسره شوی دی.  په ورته ډول، دا محکمه به د ښځو او نجونو د حقونو اړوند د بين المللي معاهدو پر وړاندې د افغانستان د بين المللي ژمنو نقض وڅيړي؛ هغه ژمنتاوې چې د طالبانو له خوا له پامه غورځول شوې او نقض شوې دي.  له بلې خوا، دا محکمه به د اسلام دين د تعليماتو په رڼا کې د افغانو ښځو او نجونو د حقونو نقض په روښانه ډول وڅيړي. د دې سرغړونو موده د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵مې څخه تر دې مهاله پورې غځيږي.

په دې محکمه کې د دې مسلې د  انتخابولو دليل په افغانستان کې د ښځو او نجونو پر وړاندې د جنايتونو سختوالی او د دوی د بشري حقونو د سرغړونو دوام ته رسېدنه او دې وضعيت ته د ځواب ويلو بيړنی اړتيا ده.  پر افغانو ښځو او نجونو د دې سرغړونو پراخې اغېزې، او په پايله کې د افغانستان لپاره يې ناوړه اغېزې

ژورې، دوامداري او نه جبرانېدونکې دي او د دې وضعيت پای ته رسولو او د دې جنايتونو د مرتکبينو له مسئول ګرځولو پرته بله هيڅ حلاره نشته. د دې استماعيه غونډو جوړول او د ولسي محکمو د رامنځته کولو او پلي کولو په برخه کې عملي تجربه د افغانستان د مدني ټولنې بنسټونو ته دا فرصت هم برابروي چې په راتلونکي کې په افغانستان کې د ټولو تاريخي او يا هم روانو سرغړونو په اړه محکمې جوړې شي.

## ٦ - د دې محکمې اهميت او پايلې به څه وي؟

د دې محکمې اهميت په دې کې دی چې د بشري وجدان پر یوې تر ټولو حياتي او کړاو زېږوونکې مسئلې باندې بحث کوي، چې هغه د بشريت پر ضد جنايتونه او د افغانو د ښځواو نجونو د بشري حقونو پراخ او سازمان شوی نقض دی. دا موضوع نه يوازې د افغانستان او د راتلونکې لپاره يې، بلکې د ټولو ټولنو لپاره چې انساني او بشري اصولو او ارزښتونو ته ژمن دي د عطف مهمه نقطه ګڼل کيږي.

- لکه څرنګه چې د نړيوالې ټولنې لخوا د دې موضوع د هيرولو خطر او له پولو ور هاخوا د دې موضوع زيانمنوونکې پايلې خورا جدي دي. دا محکمه کولی شي په افغانستان کې د ميرمنو او نجونو د بشري حقونو وضعيت ته د پام اړولو په برخه کې مهم رول ولوبوي او په دې هيواد کې د حساب ورکولو او د عدالت د ټينګښت په لاره کې اغېزناک ګامونه واخلي.
- لکه څنګه چې وويل شول، د دې محکمې پريکړې الزامي او اجرايي نه دي، خو کولای شي په افغانستان کې د بنسټيې تحولاتو او بدلونونو د پيل نقطه وي، او بالاخره مهمې پايلې ولري:
- په افغانستان کې د ښځو او نجونو د بشري حقونو د وضعيت مستند او د باور وړ تصوير وړاندې کول او دا ډاډ ترلاسه کول چې د قربانيانو غږ او غوښتنه هېره نکړای شي.
- د نړۍ په بيلابيلو هيوادونو او بين المللي سازمانونو کې د طالبانو پر وړاندې د اغېزناکو او پرېکنده تدابيرو نيولو په موخه د فشار راوړل، او د بشر حقونو د بنسټيې اصولو له رعايتولو او په ځانګړې ډول د هيواد د ښځو او نجونو د حقونو له رعايتولو سره د هر ډول ډيپلوماتيک او سياسي تعامل مشروط ګرځول.
- په دې محکمه کې راټول شوي شواهد وړاندې کول کولی شي د رسمي قضايي ادارو لخوا د تحقيقاتو د دوام لپاره د اعتبار وړ بنسټ وي، لکه نړيواله جزايي محکمه، د عدالت بين المللي محکمه او په درېيمو هيوادونو کې د قربانيانو د شکايتونو تعقيب.
- د عدالت غوښتنې د شته بين المللي بهيرونو پياوړتيا او د طالبانو پر مسئول ګرځولو لا ډېر تاکيد او همدا راز د بشريت ضد جنايتونو او د افغانو ښځو او نجونو د حقونو سيستماتيک نقض ته د رسېدو د ميکانيزمونو د رامنځته کولو لپاره دادغوښتنه، چې لا تر اوسه دا ميکانيزمونه نه دي فعال شوي.
- دا پروسه همدا راز کولی شي د مدني ټولنې په بنسټونو کې د زده کړې او ظرفيت په جوړولو کې هم مرسته وکړي، ترڅو د بشر حقونو سرغړونې مستندې کړي، د دادغوښتنې نور ډولونه پيل کړي، او حساب ورکونه او عدالت ډاډمن کړي.
- د افغانانو په مدني مبارزه کې د هيلې د عنصر پياوړتيا، په ځانګړې توګه زموږ د هيواد د مخکښو ښځو او نجونو په منځ کې، چې وکولای شي شته کړاوونه او نابرابرۍ له منځه يوسي.

## ۷ - په دې محکمه کې د دعوې اړخونه څوک دي؟

په دې قضیه کې مدعیانې او عارضانې افغانې مېرمنې او نجونې دي، چې د دوی د استازو په توګه د دې هیواد مدني او حقوق بشري بنسټونه د څارنوالانو په مخ اتهام او دعوه پر مخ وړي. دا چاره د افغانستان له ښځو او نجونو سره د پرله پسې مشورو له مخې ترسره کیږي، چې په ښارونو او کلیو کې ژوند کوي او د دې جنایتونو او د بشر حقونو د سرغړونو تریخ خوند هره ورځ څکي.

مدعي علیه لوری د طالبانو ډله ده چې په غیرقانوني او غیرمشروع ډول د افغانستان قلمرو په واک کې لري، او د افغانو ښځو او نجونو له بشري حقونو څخه یې سختې او سازمان شوې سرغړونې کړې دي.

## ۸ - څوک به په دې محکمه کې د څارنوالی، قضاوت او دفاع دنده ولري؟

دا چې په دې قضیه کې اصلي لوری افغانې مېرمنې اونجونې دي، پر همدې بنسټ، د څارنوالانو دنده د څلورو افغانو ښځو له خوا پر مخ وړل کیږي. دا اشخاص په بین المللي حقونو او ټولنپېژندنه کې تخصص لري، او هر یو یې د دې چارې پر مخ وړلو لپاره په خپلو اړوندو څانګو کې لازمه پوهه، تخصص او تجربه لري.  څارنوالان د بشر حقونو د کارپوهانو د یوې ډلې لخوا ملاتړ کیږي، چې محکمې ته د وړاندې کولو لپاره د شواهدو راټولولو دنده لري. دا ډله، د ډېر شمېر لارو او ابزارو په کارولو سره، لکه سیمه ییزو سرچینو ته په مراجعې سره، له پوښتنپاڼو څخه په استفاده، د مرکو ترسره کولو او د نورو حقوق بشري بنسټونو د رپوټونو ارزولو له لارې، او د ترلاسه شویو اطلاعاتو او شواهدو په پرتلنې او شننې سره او د کره کولو او رښتیا پېژندنې د ازموینو له لارې یواځې هغه اطلاعات او مدارک محکمې ته وړاندې کوي چې اعتبار یې تایید شوی وي. سربېره پر دې، د شپږو غړو لرونکې د نړیوالو متخصصینو یوه ډله هم شته چې په بېلابېلو موضوعاتو کې د څارنوالانو ډلې ته لازمې مشورې ورکوي.

په دې محکمه کې د قضاوت دنده بین المللي او خپلواک متخصصین پر غاړه لري، چې د افغانستان د مسلې او حاکمو شرایطو په اړه بشپړه پوهه لري، او د افغانستان د ښځو او نجونو د ناوړه وضعیت اړوند بشپړ معلومات لري. د دې قاضیانو ټاکنه، د شفافیت او قضایي خپلواکۍ په موخه، د دايمي ولسي محکمې لخوا ترسره کیږي؛ خو اصلي تاکید پر دې دی چې د دې محکمې ډېری قاضیان په اسلامي هیوادونو کې د متخصصو ښځو له منځه وټاکل شي، چې موضوعات د بین المللي حقونو په چوکاټ کې د ارزولو تر څنګ د اسلامي ښوونو په رڼا کې هم و ارزوي. موخه دا ده چې قاضیان د دې سرغړونو په اړه خپل حکم له دواړو اړخونو څخه صادر کړي.

په دې قضیه کې د دفاع مسؤلیت دې ته په پام سره چې د دې قضیې تورن او مسئول لوری د طالبانو ډله او د هغوی مشخص کسان دي، د همدې ډلې پر غاړه دی. که څه هم وارد شوي تورونه او د طالبانو له خوا ترسره شوې سرغړونې به د دايمي ولسي محکمې له خوا هغوی ته ورسول شي.  د دې ډلې په نشتوالي کې به په محکمه کې دفاع د یو وکیل له خوا ترسره شي.

## ۹ - د محکمې د کار د پرمخ وړلو مرحلې څه ډول دي؟

په دې محکمه کې کار په درې مرحلو کې ترسره کيږي: له محاکمې وړاندې مرحله، د محکمې بهير او له محاکمې وروسته.

- له محاکمې څخه مخکې مرحله له هغه وخته پيليږي چې غوښتنليک وړاندې کوونکي بنسټونه د دايمي محکمې سکرتريت ته خپله غوښتنه وړاندې کوي، او د محکمې له خوا منل کيږي. په دې مرحله کې ترټولو مهمه موضوع د مدارکو او شواهدو راټولولو د دلې ټاکل، د څارنوالانو او د غوښتنليک وړاندې کوونکو بنسټونو د کارپوهانو ټاکل، او د دايمي ولسي محکمې له خوا د قضايي پلاوي ټاکل دي.  د دې ډلو تر ټاکلو وروسته هر يو خپلې ځانګړې دندې ترسره کوي. په دې مرحله کې د مدارکو او شاهدانو ډله مدارک او شواهد راټولوي او د دعوې ترتيبولو لپاره لازم اسناد برابروي. دا ډله بايد د امنيتي تدابيرو او اخلاقي اصولو په رعايت سره د قربانينو او هغو کسانو چې د شهادت وړاندې کولو لېوالتيا لري د هويت ساتنې او د اطلاعاتو د مصئونيت لپاره لازم اقدامات ترسره کړي، چې هم د افرادو د هويت د افشا کېدو مخه ونيول شي او هم د مستندولو په پروسه کې د داوطلب ګډون لپاره خوندي او د ډاډ وړ فضا رامنځته شي.

- څارنوالان د ترلاسه شويو مدارکو او شواهدو او له خلکو او قربانيانو سره د ترسره شويو مرکو په نظر کې نيولو سره د دعوې د ترتيبولو اقدام کوي، چې فردي جزايي تورونه او په ډله ييزه توګه د بشر حقونو د نقض پراخې او ښکاره سرغړونې رانغاړي. د متخصصينو ډله چې له بين المللي متخصصينو څخه جوړه ده، څارنوالانو ته د دعوې د ترتيب او تنظيم د څرنګوالي او د خلکو د غوښتنو منعکسولو اړوند مشورې او لارښوونې وړاندې کوي.  قضايي پلاوی چې د دايمي ولسي محکمې له خوا ټاکل کيږي، په دې مرحله کې او هم په دعوه ليک کې د راغليو مفادو په نظر کې نيولو سره، موضوعاتو ته د رسېدو لپاره د پام وړ تخصص له مخې رامنځته کيږي.
- د محاکمې مرحله په حقيقت کې هماغه د استماعيه غونډو جوړول دي، چې په دعوه ليک کې د مطرح شويو موضوعاتو د پراخوالي او حجم په نظر کې نيولو سره، له يوې څخه تر څو ورځو (په دې قضيه کې تر درې ورځو) رامنځته کيږي. په دې استماعيه غونډو کې دعوه ليک د څارنوالانو له خوا په قضايي ناسته کې لوستل کيږي او لازم شواهد او مدارک وړاندې کيږي. د دې مرحلې يوه مهمه برخه د قضايي پلاوي لومړنۍ موندنې دي، چې د استماعيه غونډې پسې سمدستي او په سبا يې وړاندې کيږي.
- له محاکمې وروسته مرحله د استماعيه غونډې تر پای ته رسېدو او د قضايي پلاوي له موندنو وړاندې کېدو وروسته پيليږي، چې د حکم د صدور غونډه (د دايمي ولسي محکمې د لارښود پر بنسټ له استماعيه غونډې دوه مياشتې وروسته ترسره کيږي) او له هغې وروسته دادغوښتنې پکې شاملې دي. رسمي مراجعو او بنسټونو ته د قضايي پلاوي د موندنو د يو جامع ريوټ وړاندې کول، له محاکمې وروسته مرحله کې يو بل مهم ګام ګڼل کيږي. دا ريوټ د بين المللي ملاتړ جلبولو، د ځواب ويلو د تضمين او د ورته جنايتونو د بيا پېښېدو د مخنيوي په موخه، رسمي قضايي جوړښتونو ته لکه بين المللي جزايي محکمې ته، د عدالت بين المللي محکمې ته، د ملګرو ملتونو سازمان اړوندو بنسټونو او په ځانګړې ډول د بشر حقونو شورا ته لېږل کيږي. په ورته ډول، ياد ريوټ پناه ورکوونکو هيوادونو ته له قربانيانو څخه د ملاتړ په موخه، او سياسي او ډيپلوماتيکو استازوليو ته استول کيږي، او هم د بين المللي کمپاينونو په قالب کې خپريږي او څارل کيږي.

## ۱۰ - په افغانستان کې دننه او بهر خلک څنګه کولای شي دې بهیر سره همکاري کړي؟

دا چې دا بهیر ولسي ماهیت لري، پر همدې بنسټ د خلکو د همکارۍ جلبول، او پراخ ګډون او ملاتړ يې د دې بهیر په بریالیتوب کې ټاکونکی رول لري.  هغه څه چې د افغانستان خلک (په کور دننه او بهر) کولی شي ترسره یې کړي، د غوښتنې سپارونکو بنسټونو اړوند د اسنادو او مدارکو برابرول (د دې بنسټونو نومونه او ورسره د اړیکې نیولو لارې د دې سند په وروستۍ برخه کې راغلې دي) او همدا راز د محکمې پر وړاندې په حضوري، تصويري، غږيز یا لیکلي ډول د شاهدۍ ورکول دي. جدي امنیتي اندېښنو او خطرونو ته په پام سره، د دې فعالیتونو ترسره کول په کور دننه له افغانستان څخه نه توصیه کیږي. خو هغه کسان چې له افغانستانه بهر دي، کولای شي د ایمیل او د اړیکې د شمېرې له لارې  له اړوندو بنسټونو سره اړیکه ونیسي او په یادو برخو کې همکاري وکړي.

## ۱۱ - آیا له دایمي ولسي محکمې سره د افرادو او اشخاصو مخامخ اړیکه ممکنه ده؟

له دایمي ولسي محکمې سره مخامخ اړیکه د محکمې د لارښود په نظر کې نیولو سره او په دې دلیل چې دا بنسټ یواځې د دې غونډې جوړوونکی دی او اصلي تصمیم د ولسي محکمې د قاضیانو له خوا نیول کیږي، ممکن نه دی، او له دایمي ولسي محکمې سره هر ډول اړیکه د غوښتنلیک وړاندې کوونکو بنسټونو له لارې ترسره کیدای شي.

## ۱۲ - د افغانستان دننه یا بهر خلک څنګه کولی شي د دعوه لیک متن او د محکمې استماعیه غونډو ته لاسرسی ولري؟

د دعوه لیک متن د شته اسنادو او مدارکو په رڼا کې، د افغانستان دننه او بهر له ښځو او نجونو سره د مشورو له مخې، او د مدني ټولنې د بنسټونو، حقوق بشري سازمانونو او د مسلکي حقوقي بنسټونو او اشخاصو د نظریاتو په پام کې نیولو سره د تدوین په حال کې دی. د نسخې له نهایي کېدو ورسته او د هغو برخو له حذفولو وروسته چې خپرول یې ممکن په دې پروسه کې د ګډون کوونکو کسانو لپاره ستونزې راولاړې کړي، د دې سند یوه نسخه به د محکمې په ویبپاڼه کې خپره شي. د حساسو معلوماتو حذفول قربانیانو ته د هر ډول خطر د مخنیوي لپاره ترسره کیږي.

د محاکمې استماعیه غونډې به په ژوندۍ او مخامخ بڼه په ټوله نړۍ کې د مخاطبانو لپاره د لاسرسي وړ وي او هر لېواله کس کولای شي دا غونډې په افغانستان کې د ننه او بهر د هغو رسنیو له لارې چې وروسته به اعلان شي، لیدلای شي.

## ۱۳ - په دې پروسه کې د مدني ټولنې او د بشر حقونو د نورو بنسټونو رول به څه وي، چې د غوښتنلیک وړاندې کوونکو څلورو بنسټونو په منځ کې نه دي؟

په داسې ولسي پروسو کې د مدني ټولنې او بشر حقونو د بنسټونو رول او ځای ته په پام سره، د دوی د همکارۍ او فعال ګډون ډېرې زمینې شته.  دا همکارۍ د غوښتنلیک وړاندې کوونکو بنسټونو سره د مدارکو او شواهدو په برابرولو او وړاندې کولو کې له همکارۍ ور هاخوا، کیدای شي د دې بهیر د ملاتړیزو او تقویتي چوکاټونو له لارې ترسره شي.  یاد بنسټونه د دایمي ولسي محکمې په اړه خلکو ته د پوهاوي ورکولو سربېره،

کولای شي په وروستیو دادغوښتونکو فعالیتونو او اقداماتو کې فعاله برخه ولري.  که څه هم غوښتنلیک وړاندې کوونکو بنسټونو له یو شمېر بنسټونو، مدني فعالانو او د بشر حقونو له مدافعینو سره ډېر شمېر مشورتې ناستې کړې دي، خو د دې پروسو ولسي او قرباني محوره طبعیت ته په پام سره، لا نورو مشورو او په ټولو مراحلو کې د لا پراختیا اړتیا شته.

## ۱٤ - لا نورو معلوماتو ته د اړتیا په صورت کې کوم ځای ته باید مراجعه وشي؟

د محکمې د کار د بهیر اړوند ټول معلومات په ټولو مرحلو کې د  دی محکمې په اړوندو خواله رسنیو کې (د دې سند په پای کې درج شوي) د لاسرسي وړ دي. همدا راز، دا ټول معلومات به د افغانستان اړوند د ټولو رسنیو له لارې، چې له هیواده بهر فعالیت کوي هم خپاره شي.

## ۱۵ - دې پروسې سره اړوندې مهمې نېټې کومې دي؟

دې پروسې سره تړلې مهمې نیټې په لاندې ډول دي:

- ۲۰۲۴ ډسمبر: د طالبانو د ډلې لخوا د جنسیت پر بنسټ د جنسي ځورونې او په سیستماتیک ډول د افغان ښځو او نجونو د بشري حقونو د نقض اړوند دایمي ولسي محکمې ته د څلورو غوښتنلیک واندې کوونکو بنسټونو له خوا د غوښتنلیک وړاندې کول.
- ۲۰۲۵ فبروري: په ۲۰۲۵ کال کې د استماعیه غونډې جوړولو اړوند د دایمي ولسي محکمې له خوا د غوښتنلیک منل.
- ۲۰۲۵ اپرېل: د څارنوالانو د ډلې او د مدارکو او شواهدو د راټولولو او بین المللي متخصصینو د ډلې ټاکل.
- ۲۰۲۵ جولای: د یوې رسنیزې اعلامیې له لارې د ولسي محکمې د موجودیت رسمي اعلان.
- ۲۰۲۵ اګست: دایمي ولسي محکمې ته د څارنوالانو له خوا د دعوه لیک د متن سپارل.
- ۲۰۲۵ اګست: د دایمي ولسي محکمې له خوا د محکمې د قاضیانو ټاکنه.
- ۲۰۲۵ اکتوبر ۸-۱۰: د هسپانیې په مادرید ښار کې د استماعیه غونډې جوړول.
- د ۲۰۲۵ کال د ډسمبر میاشتې لومړۍ نیمایي: د قاضیانو لخوا د محکمې د پریکړې اعلان.

دادگــاه مردمی بــرای زنـان افغانستــان
د افغانستان د ښځو لپاره ولسي محکمه
PEOPLE'S TRIBUNAL FOR WOMEN OF AFGHANISTAN
PERMANENT PEOPLE'S TRIBUNAL